(د پاینده څرګند لیکنه)
۱۹-۰۷-۱۰

## د قتل قرارداد

۱۷ بېګناه مُلکي عراقیان،د ښځو او کوچنیانو په ګډون، په رڼا ورځ د سړک پر غاړه،په ګولیو وژل کیږي. د ۲۰۰۷ کال د سپټمبر پر ۱۶ دغه - او دې ته ورته په عراق کې د داسې خپل سرو وژنو له نه بندولو وروسته، څه موده وړاندې د عراق حکومت یوې امریکایی امنیتي کمپنۍ ته یوازې یوه اونۍ وخت ورکړ چې له دغه هیواده ووځي. تاسې به یې هم نوم اوریدلی وي، دا کمپنۍ Blackwater نومېده چې اوس یې نوم په Xe Services اوړلی.

د امریکې د کانګرېس د یو شمیر غړو له مخالفت سره سره، د اوباما اداري د CIA په همغږۍ- دغې کمپنۍ ته د ۲۲۰ میلیون ډالرو قرارداد په افغانستان کې ورکړ. له دغو پیسو ۱۲۰ میلیونه یې په کابل او ولایتونو کې د امریکې د نوو ډیپلوماتیکو مرکزونو او ۱۰۰ میلیونه ډالره یې د CIA او استخباراتي مرکزونو د امنیت تینګښت ته ځانګړي شوي.

بلَک واټر امریکایی شخصي کمپنۍ د ۲۰۰۷ کال په فبروری میاشت کې جوړه شوه. د کمپنۍ بنسټ اېښېدونکي (یرېک پرنس) Erik Prince لا پخوا له مشر بوش (دجورج ډبلیو بوش پلار)سره ډیرې شې اړیکې درلودې او عیسوي مذهبي تکلونه یې یو وو. ویل کېږي دغې کمپنۍ تراوسه شاوخوا د یو بېلیون ډالرو په ارزښت قراردادونه د امریکې له دولت څخه تر لاسه کړي چې ډیری وخت له داوطلبۍ پرته همدغې کمپنۍ ته ورکول کېږي. بې دغه هم د امریکې د مشرتابه تر منځ - داقتصادي ګټو او روابطو برلاسی پر ضوابطو- کومه نوې خبره نه ده.

د د غې کمپنۍ کار کونکي په عراق او افغانستان کې د بېګناه خلکو د وژلو په جرم همدا اوس اوس په امریکې کې د محکمو پرېکړو ته په تمه دي. د ګارډین Guardian ورځپاڼې په وینا دغې کمپنۍ په عراق کې په غیر مسولانه ډول مُلکي بېګناه خلک بېرحمانه وژلي چې تر ټولو رسوا پېښه یې د ۱۷ بېګناه مُلکي کسانو وژنه ده. د دغې کمپنۍ دوه کسان بیا په کابل کې د دوو بېګناه مُلکیانو د وژنې په تور په متحده ایالاتو کې محکمه کېږي.
د بلاک واټر کمپنۍ یو پخوانی کار کونکی (جان ډو دویم) John doe no 2 د قسم په خوړلو شاهدي ورکړې او وایي ,, د دغې کمپنۍ مشر Erik Prince او د د همکارانو یو یا دوه هغه شاهدان وژلي چې فدرالي چارواکو ( جرمي پلټونکو) ته یې د دغې کمپنۍ پر جنایتونو معلومات ورکول،،.

په عراق او افغانستان کې د دې ډول ظالمانه وژنو په تعقیب، دا دی بیا په افغانستان کې یو ډېر مهم قرار داد همدغې کمپنۍ ته ورکول کېږي. دا چې ولې؟ یو لامل یې د CIA مشر لیون پانېټا له ګارډین ورځپاڼې سره په مرکه کې داسې وایي ,, موږ امنیت ته اړتیا لرو او ډېرې لږې کمپنۍ شته چې هغه ډول امنیت چې موږ یې غواړو برابرکړي،،.
دلته داسې ښکاري چې ددغې کمپنۍ کار هغه ځانګړتیا لري چې نه نورې کمپنۍ او نه هم د امرېکې ځواکمن پوځ یې لري.
یو ځل به په عراق کې -له مُلکي وژنې پرته - د بَلک واټر د کمپنۍ پر فعالیتونو او اړیکو نظر واچوو.

- د امریکې پوځ د اصولو له مخې ځینې کارونه نه شي تر سره کولی او ځینې وسلې نه شي کارولی چې دغه قانون او یا هم مقررات پر شخصي کمپنیو د تطبیق او پلی کولو وړ نه دي. د بلک واټر کمپنۍ یو ډول لاسي بمونه او Silencers (د ټوپک یا تپانچې غږ ډپونکي) عراق ته دخپلو فعالیتونو لپاره لېږدولي وو چې غیرقانوني دي.

- د شخصي کمپنیو د کسانو شتوالی او شمیر په عراق کې له رسمي ارقامو وتلی ؤ. ویل کېدل چې په عراق کې ۱۳۰،۰۰۰ امریکایي سرتېري مېشت دي خو د شخصي کمپنیو وسلوالو سره چې ډېر یې د بلک واټر کسان وو، ۲۶۰،۰۰۰ ټوپکوال ول. په دې ډول نیمایي یې کوم پوځي مشرتابه ته مسول نه وو او د ډېرو نورو فعالتونو ډګر یې پر مخ خلاص ؤ.

- د بلک واټر پر کار- څارګر - Jeremy Scahill پر دغې کمپنۍ په خپل لیکل شوي کتاب کې ( بلک واټر، Blackwater,The rise of the world's most powerful mercenary army په نړۍ کې د ترټولو پیاوړي اجیر پوځ راپورته کېدل) چې د بوش د واکمنۍ پر مهال لیکل شوی وایي، جورج ډبلیو بوش دغې کمپنۍ ته د خپلې ادارې د یوې وسلوالې ځانګې په سترګه ګوري چې پوځ ته مسوله نه ده او د پوځي محکمې د واک له پولې د باندې ده. نیغ په نیغه یوازې پخپله بوش او دهغه مرستیال ډک چیني ته رپوټ ورکوي. دوی ته دغه کمپنۍ په بغداد کې د شخصي وسلوال پوځ حیثیت لري.

د بلک واټر کمپنۍ پیاوړې او نه شلېدونکي رېښې ډېرې ژرې عقیدوي ملاتړ لري. دغې کمپنۍ د هغه نیت بشپړولو ته متې رانغښتې دي چې د امریکې په ځینوسیاسي کړیو کې پیاوړي - خو نا مریي دي.
د بلاک واټر کمپنۍ د پخوانی کار کونکی (جان ډو دویم) John doe no 2 په وینا ددغې کمپنۍ مشر –یرېک پرنس چې د بوش له کورنۍ سره د عیسویت همډوله عقیده لري – ځان صلیبي عیسوی بولي چې د مسلمانانو د له منځه وړلو او د اسلام د محو کولو په نیت کار کوي. ښاغلی جان زیاتوي چې عراق ته د اجیرو جګړه کونکو په غوراوي کې له خورا دقت څخه کار اخستل کېده او هغه کسان یې استول چې دعیسویت عقیده او مرام یې له دوی سره همډوله ؤ. دغو کسانو کټ مټ هغه ډول علامې او اشارې کارولې چې له مسلمانانو سره دصلیبي جګړو پر مهال صلیبیانو کارولې. ښاغلي پرنس خپله کمپنۍ داسې اداره کوله چې ټوپکیان یې د عراقیانو وژلو او ویجاړۍ ته وهڅېږي. دمُلکي خلکو د ژوند ویجاړول، د هغوی رټل، وژل او له منځه وړل د یو سپورټ او یا لوبې Game حیثیت درلوده چې د مکافاتو وړ ګڼل کېده.
د وژنو،ویجاړیو او د انسانانو د په ښه کولو (Sniper) صحنې به فلمبرداري کېدې او د خوند اخستو په موخه به په یوې غونډې کې کتل کېدې. دغه ټولناستې به یې hot sessions (تادوه یا سره مجلسونه) نومول.

آیاد دغه ډول فجیعو اعمالو د غندلو لپاره د انسانانو په قاموس کلمې شته؟

آیا د بشری حقونو سرسختو مدعیانو ته ښايي چې د مذهبي جنون په ناروغۍاخته کمپنۍ او ټوپکمارو ته د بېګناه خلکو او معصومو کوچنیانو د وژلو قرارداد ورکړي؟

په داسې حال کې چې په افغانستان کې دایتلافي ځواکونو،نړېوالو مرستندویه هېوادونو او ملګرو ملتونو ظاهري هڅه دا ده چې د مُلکي وکړو د مرګ ژوبلې کچه را ټيټه کړي، دغه (د تورو اوبو) کمپنۍ د ۲۲۰ میلیون ډالرو نوی قرارداد ترلاسه کوي-ولې؟ آیا ددې لپاره چې په عراق کې ښه برېښېدلې؟

اوس نه یوازې عام وکړي،آن د افغان دولت منتقدین هم دا مني چې دښاغلي کرزي اداره د ځينو مثبتو کارونو تکل لري خو دبهرنيو له سیاسي مخالفت سره مخ کېږي او ددغو دواړو ترمنځ واټن ورځ تر ورځې ډېرېږي.
ښاغلی کرزی د مُلکي بېګناه خلکو د وژلو په غندلو ستړی شو، خو ددغه جنايت کچه تر تېرکال سږ کال لوړه ده، يوازې په شپږو میاشتو کې د قربانیانو شمېر تر ۱۰۰۰ کسانو اوړي.
پرون د یوه افغان سرتیري په لاس د درې بریتانیوي پوځیانو له وژنې وروسته، وړاندې تردې چې لامل یې وموندل شي –ښاغلي کرزي د بریتانیي له لومړي وزیر څخه عذر وغوښته. دا په داسې حال کې ده چې له کومې بخښنې پرته،په همدغې اونۍ کې ناټو ۸ افغان پوځيان په يوې بمبارۍ کې ووژل.

د افغانانو مرګ ژوبله که مُلکي وي يا پوځي، اوس اصلاً کوم نوی خبر نه دی او په نړېوالو خبري آژانسونو کې نه راځي، نه يې څوک مخنیوي کوي او نه هم څوک بخښنه غواړي،

په دې ټول پوهېږې چې زموږ او زموږ د دولت په ژړاو او غندلو بهرني ځواکونه خپل هېڅ څه نه بدلوي، خو لږ تر لږه موږ ته ښايي خپله بغاره د - ناشنوا - غوږونو تر شا وکړو.

افغان دولت دې د هغو کمپنیو او اشخاصو پر کار او قراردادونو بندیز ولګوي چې د بېګناه بشر په وینو يې لاسونه سره وي. ودې وایي چې - همدومره مُلکي وژنه مو بس ده چې تاسو پرې بوخت یاست، زموږ د - قتل قرارداد - مه پراخوي.

جرمني